ډیره اسماعیل خان - د تی تی پی دوه نور ترهګر ووژل شول او دوه نور ټپیان شوي

ددیره اسماعیل خان په ګړها مده سیمه کې دامنیتي ځواکونو په کامیابو عملیاتو کې دوه ترهګر وژل شوي او دوه ژوبل شوي دي. وسلې، ځانمرګي واسکټونه او چاودېدونکي توکي ترلاسه شول۔

دسرچینو له مخې امنیتي ځواکونو دترهګرو دموجودیت په اړه دخفیه معلوماتو په ترلاسه کولو سره دغه ترهه ګر محاصره کړل۔ محاصره شوو ترهګرو هڅه وکړه چې په ځنګل کې وتښتي خو د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر ووژل شول په داسې حال کې چې د دوو ټپي ترهګرو لټون روان دے۔

د ترهګرو د شتون په اړه د ځایي خلکو استخباراتي معلومات د عملیاتو په بریالیتوب کې مهم رول لوبوي۔